# مسیر

ورځپاڼه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د جون دویمه | ۵۴۳مه ګڼه


## خپره

۴ مخ



### ادم سمیت

سمیت په نړۍ کې د اقتصاد یا معاصر اقتصاد پلار ګڼل کېږي چې اقتصادي مسایل يې له کلاسيکو او زړو نظرياتو را و ايستل او اقتصاد يې د خلکو او ټولنو د کارونې وړ و ګرځاوه.

# بې پروايي او را روان ناورین؛

## د ژغورنې نړیواله کمېټه: کرونا به په افغانستان کې وحشتناک وضعیت رامنځ ته کړي



۳

سرپرستي؛ هغه ناوړه دود چې ختمېدل غواړي
۲ مخ

نیولیبرالیزم امریکا چگونه به وبای اقتصادی جهانی مبدل شد؟
۲ مخ

په امریکا کې د نژادي تبعیض پر ضد د مظاهرو لنډ تاریخ
۳ مخ

## کرنې وزارت: روان کال په فراه کې د هندوانو د حاصلاتو کچه لوړه شوې ده



د کرنې وزارت وايي، د دوی د اټکل له مخې به سږ کال په فراه کې د هندوانو د حاصلاتو کچه نږدې ٦٩٠ متریک ټنو ته ورسېږي. د یاد وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې تېر کال په فراه کې پر ۱۸ زره ۴۷ هکتاره ځمکه هندوانې کرل شوې وې چې ترې ٦٥٠ زره ٢٦٨ متریک ټنه حاصل ترلاسه شو، خو سږ کال به دغه رقم ٦٨٩ زره ۴۰۰ متریک ټنو ته ورسېږي. د خبرپاڼې له مخې، سږ کال په فراه کې تر ۱۹ زره هکتاره پر ډېرې ځمکې هندوانې کرل شوې دي.

سرچینه کاږي، پشت رود، خاک سفید، بالابلوک، بکوا، شیب کوه، پشت کوه ولسوالۍ او د مرکز د څنډو کلي، هغه سیمې دي چې پکې ډېرې هندوانې کرل شوې دي.

سرچینې د فراه د کرنې د رییس عبدالمنان متین له نقله ویلي: «د دغه محصول د کښت ساحې پراخوالي ته په کتو، د تېر کال په پرتله به شپږ سلنه ډېروالی ولري.»

## بریتانوي کارپوهان: امریکا افغان جګړه بایللې، ژر دې خپل سرتېري له دغه هېواد را وباسي

وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له افغانستان څخه د خپلو ټولو سرتېرو د ایستلو خبره وکړه، د یاد هېواد دفاع وزارت (پنټاګون) يې ظاهراً له پرېکړې څخه څنګه چې تمه کېده، تود هرکلی ونه کړ. اینډیپینډېنټ بریتانوي ورځپاڼې د پنټاګون سوړ غبرګون ته په اشارې سره په یوې مقاله کې لیکلي، امریکا افغان جګړه بایللې او څومره ژر چې کېدای شي، باید خپل سرتېري هېواد ته ستانه کړي.

د یادې مقالې لیکوال چې د نظامي چارو مخکښ کارپوه دی، ویلي، امریکا په دغه هېواد کې په تېرو دوو لسیزو ناکام حضور کې څه ګټه وکړه چې له دې وروسته به يې وکړي. د هغه په خبره، اوس د دې وخت رارسېدلی چې دا سرتېري افغانستان د تل لپاره پرېږدي او خپلو کورونو ته ستانه شي. په ورته وخت کې ځینو کارپوهانو بیا په یو مخیز ډول له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل اشتباه بللې او د احتیاط سپارښتنه يې کړې ده.

د بریتانوي کارپوهانو دا څرګندونې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې هم یو شمېر امریکايي سیاستوالو او لوړ پوړو پوځي چارواکو ویلي چې امریکا له نظامي لارې په افغانستان کې بریالۍ کېدای نه شي، اړینه ده چې دغه هېواد په ابرومندانه توګه خپل سرتېري بېرته امریکا ته را ستانه کړي.

## د افغان سولې په پروسه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو یو



۵ مخ

## وزارت صحت عامهٔ: در ۲۴ ساعت گذشته بیش از ۵۴۰ مورد مثبت ویروس کرونا در کشور ثبت شده است




وزارت صحت عامهٔ افغانستان می گوید، در ۲۴ ساعت گذشته بیش از ۵۴۰ مورد مثبت ویروس کرونا در مناطق مختلف کشور ثبت شده است.

توحید شکوهمند معاون سخنگوی وزارت صحت عامه دیروز به رسانه ها گفت: «بالاتر از ۱۱ صد و ۵۰ مورد مشکوک تست گردیده که از این میان ۵۴۵ واقعهٔ مثبت در ۲۴ ساعت گذشته ۱۰۰ نفر شفایافته و ۸ تن جان باختند.»

در افغانستان تا اکنون بیش از ۱۵ هزار و ۷۵۰ تن به ویروس کرونا مبتلا شده و از آغاز اولین مورد تثبیت این ویروس، ۲۶۵ تن جان باخته‌اند.

این در حالیست، که امرالله صالح معاون اول رئیس جمهور در دیدار با پیتر پروګل سفیر جرمنی در افغانستان خواهان کمک وسایل تیست ویروس کرونا شده است.

در عین حال کمیتهٔ اضطراری مبارزه با ویروس کرونا و وزارت صحت عامهٔ افغانستان از کمبود وسایل و تجهیزات در مبارزه با این ویروس خبر داده‌اند.

کووید-۱۹ بیماری ویروسی است که می‌تواند با نشانه‌های تب، سرفهٔ خشک و تنگی نفس به همراه باشد. داکتران می‌گویند، مردم باید دستان خود را چند بار در روز با صابون بشویند، حداقل یک متر از هم‌دیگر فاصله گیرند و تا حد ممکن در خانه بمانند.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

دریځ

## سرپرستي؛ هغه ناوړه دود چې ختمېدل غواړي

ولسمشرۍ ماڼۍ په تېرو دوو ورځو کې دوه کسه د دوو وزارتونو لپاره سرپرست وزیران ټاکلي دي. ولسمشر غني د ځانګړو فرمانونو له مخې، د عامې روغتیا او ښار جوړونې او ځمکو وزارتونو لپاره سرپرستان ټاکلي دي. تر دې وړاندې یې د ځینو نورو وزارتونو لپاره هم مرستیالان او سرپرست وزیران معرفي کړي دي. په نږدې راتلونکي کې به د نورو وزارتونو لپاره هم سرپرست وزیران وګومارل شي.
د وزیرانو ګومارنه او د کابینې پوره کېدل، د چارو د سمون او پر وخت ترسره کېدو لپاره خورا اړین دي، خو هغه څه چې د اندېښنې وړ دي، د سرپرستۍ د ناوړه دود دوام دی. د قانون له مخې، سرپرست وزیران باید پارلمان ته لاړ شي، د ولسي جرګې د باور رایه خپله کړي او تر هغه وروسته دې د رسمي وزیر په توګه خپلې دندې ته ادامه ورکړي، خو د ملي یووالي حکومت په تېر پنځه کلن عمر کې د کابینې ګڼ وزیران سرپرستان وو چې له همدې امله له یوې خوا فساد په اوج کې و او له بلې خوا حکومت بریالی نه شو چې له ولس سره کړې ژمنې پوره کړي.
اوس هم دا اندېښنه موجوده ده. د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله ګډ حکومت هم د ملي یووالي حکومت یوه بله تابلو ده. پنځوس سلنه کابینه د ولسمشر غني او پنځوس سلنه به د ډاکټر عبدالله عبدالله له لوري ګومارل کېږي. دا هغه لړۍ ده چې د هر ډول اختلاف د رامنځ ته کېدو وېره ډېرولی شي. ښایي د اشخاصو پر سر نانندرۍ رامنځ ته شي، بیا به د یو بل ملاتړي استازي د سرپرست وزیرانو لپاره ستونزې جوړې کړي او په دې توګه به د سرپرستۍ ناوړه دود لا هم روان وي.
له تېرو ترخو تجربو په درس اخیستو د دې اړتیا ده چې ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله په خپلو کې اختلافونه ختم کړي او د راتلونکې کابینې په اړه سره یوه خوله شي. ژر تر ژره په کار پوه، مسلکي او د اداراتو لپاره وړ کابینه وګوماري او د باور رایې د خپلولو لپاره یې ولسي جرګې ته معرفي کړي. که داسې نه کېږي، یا د سرپرستۍ دود نه ختمېږي، نو ښایي خلک یو ځل بیا ناهیلي شي او د ملي یووالي حکومت ناکامه نسخته د خلکو له غبرګون سره مخ شي. د سرپرستۍ په دوام به حکومت همداسې په ټپه ولاړ وي، فساد به روان وي، د خلکو چارې به ځنډېدلې او سرپرست وزیران به له مسوولیتونو تښتي.
د هېواد پارلمان ته هم په کار ده چې پر حکومت د سرپرست وزیرانو د معرفي کولو لپاره فشار راوړي او له دوی وغواړي چې سرپرست وزیران ژر تر ژره د باور رایې خپلولو لپاره ولسي جرګې ته ور معرفي کړي. ولسي جرګه دې هم د ملي مسوولیت په پام کې نیولو سره وړ او په کار پوه کسانو ته د باور رایه ورکړي، څو په حکومت کې تحرک رامنځ ته شي او روان ساکن وضعیت پای ومومي.

# نیولیبرالیزم امریکا چگونه به وبای اقتصادی جهانی مبدل شد؟

مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوی
نویسنده: دکتورخالد حنفي / ترجمه: مومن حکیمی

وسایل ارتباط جمعی و رسانه های امریکایی از هیچ تلاشی در جهت روشن ساختن وضعیت اقتصادی کنونی و طرح پیشنهاداتی به هدف بیرون رفت از رکود و ایستایی اقتصاد جهانی دریغ نکردند، آنها درین راستا با تعداد زیادی از اکادیمیسین هایی که جایزهٔ نوبل را بدست آورده بودند، مصاحبه هایی انجام دادند و مقالاتی به نشر سپردند.
اما معضلهٔ بنیادی و همیشگی در طرز تفکر مدافعان نیولیبرالیزم سرمایه داری اینست که آنها هیچ وقتی راه حل ها را خارج از صندوق نیولیبرالیزم نمی بینند. این دیدگاه در تشخیص مشکلات اقتصادی و فرض کردن راه حل ها، غرور علمی لیبرالیزم امریکایی را منعکس می سازد که طی سال های اخیر بر آنها مسلط شده است. باور مندان این نظریه معتقد اند (چنانچه مفکر امریکایی «فوکویاما» در کتاب «نهایت تاریخ» و مفکر دیگر امریکایی «دراکر» در کتاب «جامعه ی بعد از سرمایه داری» به آن اشاره می کند) که نیولیبرالیزم راه حل هایی دارد که بشریت هیچ وقتی به آن نرسیده و ناممکن است که در آینده به آن برسند.
درین مقاله می کوشیم تا روی مشکلات اقتصادی، اجتماعی و سیاسی ای روشنی اندازیم که نیولیبرالیزم از آن رنج می برد، تا عنوانی را که برای این مقاله انتخاب کرده ام، «نیولیبرالیزم، وبای اقتصادی جهانی» به صورت بهتر توضیح گردد.
پس منظر تاریخی نیولیبرالیزم:
بعد از جنگ جهانی دوم، امریکا نظریات اقتصاد دان بریتانیایی «کینز» را اختیار نمود. این نظریات مداخلهٔ ارگان های حکومتی را در بازار ضروری می دانست تا شرکت های اقتصادی را از روش های نادرستی باز دارد که باعث اذیت هایی برای اقتصاد و جامعه می شود. نظریهٔ «کینزیزیم» از سال ۱۹٤۵ تا اوایل سال ۱۹۷۰ میلادی بر نظام سرمایه داری امریکایی حکومت می راند و ایدلوژی که در آن مدت بر نظام اقتصادی حاکم بود، به «لیبرالیزم مختلط Embedded Liberalism» معروف بود و باور داشت که آزادی بازار وجود دارد، اما در وقت ضرورت حکومت نیز دخالت می کند. در آن مرحله تمام اموری که مربوط به تقدیم رفاه اجتماعی برای مردم می شد، بدست دولت قرار داشت. همچنان ممتلکات دولت ها مانند بخش های صحت، مخابرات، ترانسپورت، تعلیم و امثال آن از سوی دولت اداره می شد. در آن عصر هیچ کسی این جرئت را نداشت که سخن از انتقال ملکیت این بخش ها از دولت به بخش های خصوصی به زبان آورد زیرا معنایش این بود که حیات شهروندان ساده را تحت فشار قرار دهد در حالی که آنها محور تولید و استهلاک در نظام سرمایه داری محسوب می شوند.
مراکز مطالعات و گروه های فشار که از سوی ثروت مندان تمویل می گردید، طی سالهای چهل تا هفتاد قرن گذشته خیلی تلاش ورزیدند تا چهرهٔ لیبرالیزم مختلط را مکدر ساخته و ایدلوژی دیگری را ترویج کنند که بعد ها به نام نیولیبرالیزم معروف گردید. از بارزترین شخصیت های طرفدار و نظریه پرداز این دیدگاه، پروفیسور فریدریک فون هایک و شاگردش میلتون فریدمان از دانشگاه شیکاگو بود که از سوی اتحاد شرکت هایی تمویل میگردید که پی آمد های این نظریه مطابق خواست آنها بود. به دنبال آن مراکز تحقیقاتی و بحث های زیادی به میان آمد که وظیفهٔ آن ترویج این مفکوره و تقدیم آن به شکل خوش آیند و زیبا برای تمام اطراف ذیدخل بود. ترویج کنندگان نیو لیبرالیزم توانستند که آنرا در اجندای انتخاباتی محافظین امریکا «جمهوری خواهان» در عهد رونالد ریگان در ابتدای سال های هشتاد قرن گذشته داخل سازند.
این ایدیالوژی که مستلزم اعطای آزادی مطلق به بازار بود، از سوی رئیس جمهور؛ رونالد ریگان مورد پذیرش و تطبیق قرار گرفت. او معتقد بود که بازار می تواند فعالیت های خود را با انتقال یافتن مسئولیت های تنظیمی از دوش حکومت و قرار گرفتن آن به دوش اطراف ذیدخل، منظم سازد و در نتیجهٔ آگاهی که ایجاد می کند، می تواند خوب و بد خود را در بازار تشخیص دهد.
همچنان نیولیبرالیزم حکم می کرد که دولت از رفاه اجتماعی دستبردار گردد و علاوه بر آن بخش های حیاتی کشور که در ملکیت دولت بوده و از سوی حکومت اداره می شود، باید به سکتور خصوصی سپرده شود.
اعراض و نتایج انتشار نیولیبرالیزم در امریکا:
با گذشت ده سال از تطبیق نیولیبرالیزم در امریکا نتایجی که در عرصه ی اقتصادی ظاهر گردید، ازین قرار بود: درآمد ده در صد امریکایی ها که در جمع ثروتمندان بودند، در حدود ۱٦ در صد افزایش یافت. اما در آمد ۵ در صد کسانی که ثروت بیشتر داشتند، ۲۳ در صد افزون گردید و در آمد ۱ در صد که بیشترین سرمایه را داشتند، ۵۰ در صد افزون گردید. هر قدر که فیصدی سکان بیشتر می گردید، در آمد نیز کمتر می شد. این تناسب به استناد نظریهٔ باریتو ابراز شد که می گفت: ۲۰ درصد مردم ۸۰ فیصد در آمد و ثروت را در اختیار دارند، در حالی که ۸۰ در صد مردم ۲۰ در صد ثروت و درآمد را در اختیار دارند.
اما درآمد سالانهٔ ۸۰ در صد امریکایی ها سیر نزول داشت. یعنی دخل ۱۰ در صد کسانی که در خط اول فقر قرار داشتند، ۱۵ در صد کاهش یافت. در سال ۱۹۹۷ تفاوت بین ۱۰ درصد کسانی که بیشترین سرمایه را در اختیار داشتند، و بین ۱۰ در صد کسانی که بیشتر فقیر بودند، به صورت سرسام آوری افزایش یافت یعنی کسانی که بیشترین سرمایه را در اختیار داشتند، نسبت به کسانی که در خط اول فقر قرار داشتند، ۱۱۵ مرتبه بیشتر در آمد داشتند. از همان زمان بود که قرض های بزرگی به دوش افراد امریکایی از طبقهٔ وسطی و طبقهٔ پایین جامعه قرار گرفت. به گونهٔ که اجمالی قرض ها در سال ۲۰۱۹ به ۱٤ تریلیون دالر رسید که ٦۰ در صد بالا تر از حصهٔ یک فرد امریکایی از درآمد خالص ملی می باشد.
نیولیبرالیزم (به علت خصوصی سازی و دستبردار شدن دولت از رفاه اجتماعی و ازدیاد بی حد و حصر ثروت سرمایه داران) سبب شد که ثروت مندان بیشترین تأثیر را بر تصامیم سیاسی امریکا در تمام رده های تصمیم گیری کشوری و نظامی داشته باشند، تا جایی که از سال های هشتاد قرن گذشته بدین سو هیچ رئیس جمهور منتخبی نبوده است که ممثل مجموعهٔ از شرکت های بزرگ نباشد، به استثنای بارک اوباما که افکار و تصامیم او نیز در نتیجهٔ تأثیر گذاری این شرکت ها بر سایر ارگان ها، در تنگنا های متعددی گرفتار گردید.
از بارزترین نشانه ها و نتایج نیولیبرالیزم در حال حاضر، ضعف و سطح پایین خدمات و مراقبت های صحی در کشور هایی است که نظریهٔ نیولیبرالیزم را پذیرفته اند.
جهانی سازی، نیولیبرالیزم را به وبای جهانی مبدل ساخت:
در دوران حکومت مارگریت تاچر بریتانیا نیز ازین نظریه پیروی کرد و همان نتایجی را به دست آورد که در امریکا ظاهر گردیده بود، یعنی تفاوت بین فقیر و غنی افزایش یافت و ثروتمندان بر تصامیم و فیصله های سیاسی بیشتر از قبل مسلط شدند. به دنبال بریتانیا، کشور های دیگری نیز، تحت فشار های سیاسی امریکا و صندوق بین المللی پول، که وسیلهٔ مهم و مؤثر امریکا در راستای جهانی سازی نیولیبرالیزم به شما می رود، تابع روش نیولیبرالیزم گردیدند.
البته شکی نیست که نیولیبرالیزم، امریکا را از نفوذ و تأثیر اقتصادی، سیاسی و عسکری در سطح جهان برخوردار ساخت. امریکا توانست که از خلال جهانی سازی نیولیبرالیزم اقتصاد جهان را با اقتصاد خود و به دالر وابسته سازد، تا حدی که امروز بانک مرکزی فیدرال و بازار وول ستریت به قلب متحرک اقتصاد جهانی مبدل شده و آنقدر بر معاملات مالی مسلط است که تمام معاملات جهانی بین کشور ها باید از «فلتر» امریکایی بگذرد و حکومت امریکا همین فلتر را در تحریم های اقتصادی بر ضد کشور های مختلف بکار می برد.
نتیجهٔ حتمی نیولیبرالیزم در اکثر کشور های جهان تا حدی زیاد مشابه بود و همان واقعیت های اجتماعی، سیاسی و اقتصادی را به ارمغان آورد که در امریکا ایجاد شده بود. به عنوان مثال کشور اردن تحت فشار های صندوق بین المللی پول مجبور به پذیرش و تبعیت از نیولیبرالیزم گردید. دولت مجبور شد که توانمندی های خود را به فروش برساند و در نتیجهٔ آن سرمایه داران بر نظام حکومتی مسلط شدند و دولت از رفاه اجتماعی دستبردار شد.
«دیوید هاروی » نویسندهٔ کتاب « A Brief History of Neo-liberalism » (تاریخ مختصر نیولیبرالیزم) معتقد است که عناصر تشکیل دهندهٔ نیولیبرالیزم از حادثهٔ برخاست که در سالهای هشتاد قرن گذشته در نیویورک واقع گردید. درین سال بانک ها از اعطای قرضه به ولایت نیویورک خود داری کردند، این واقعه باعث بروز پدیدهٔ گردید که امروزه آنرا «بازار یابی برای سرمایه گذاری خارجی» می نامیم و شهر نیویورک در آن عصر به شرکت نیویورک (New York Inc) مبدل گردید. قابل توجه امارت دبی نیز از نمونهٔ نیویورک پیروی نمود تا آنجایی که به Dubai Co. مبدل گردید.
تعجب آور این که نمونهٔ نیویورک نتوانست در تقلیل زیانهای بشری در مقابله با وبای کورونا موفق باشد و علت آن ناکامی و عدم کار آیی خدمات صحی و کمبود امکانیات آن درین کشور ها بود .
تمام نشانه ها حاکی از آنست که مودل اقتصادی دبی نیز به همان منهج و خط السیر نیو لیبرالیزم در حرکت است. درین صورت سرمایه گذاری خارجی و قرضه ها هیچ نفعی برای این کشور نخواهد داشت، بلکه به شدت بحران ها می افزاید. وحشت آور این که سعودی نیز فیصله نموده همین مودل را تعقیب نماید، در حالی که ناکامی نیولیبرالیزم در سطح جهانی ثابت گردیده است.
تأثیرات جانبی نیولیبرالیزم در سیستم مالی:
نیولیبرالیزم بیشتر روی تخفیف قیود قانونی بر سیستم مالی ترکیز نموده و ابتکارات قانونی مقید به خود و غیر ملزم را در سطح صنعت تشویق میکند. علاوتاً تأکید بیشتر روی تعاملات در مستوی عقد ها دارد که منتج به هزینه و مصارف تعاملات می گردد. همچنان نیولیبرالیزم عنان طرز العملی را که ابتکارات مالی یا «مهندسی مالی» نامیده اند، کاملاً رها گذاشت تا از خلال آن مشتقات مالی صورت گیرد.
در نتیجهٔ آن تعاملات در مشتقات مالی با تمام انواع آن چندین برابر قبل از نیولیبرالیزم افزایش یافت که منتج به افزایش تفاوت بین رشد اقتصادی واقعی و رشد در معاملات مالی پرخطر گردید که به اقتصاد واقعی هیچ کمکی نمی کند.
تا جایی که یکی ازین نظریه پردازان بر سبیل نکته پردازی می گفت: اگر بوت مادر کلانم را به بازار مشتقات ببرم، من می توانم میلیارد ها دلار نوآوری برای آن ایجاد کنم که توسط احمق ترین سرمایه گذاران معامله شود.
حقیقت اینست که سرمایه گذاران تا این حد احمق نیستند، بلکه به حکم نیولیبرالیزم ذهنی که در افکارش ریشه دوانیده، او را تا درجهٔ حماقت «طماع» ساخته است. و واضح ترین این حماقت، سرمایه گذاری هایی بود که طی بحران مالی جهانی به باد فنا رفت.
خلاصه
یکی از گردانندگان برنامهٔ تلویزیونی که از فکر نیولیبرالیزم نمایندگی می کرد، با مدیر اجرایی شرکت فورد در مورد قانون صنعت عسکری گفتگو می کرد. این قانون شرکت های مذکور را مجبور می سازد که در حالات بحرانی و اضطراری همان چیز هایی را تولید نمایند که دولت به آنها امر می کند. درین مصاحبه بیشترین اهتمام گرداننده روی این نکته بود که: پول این دستگاه های تنفسی را که تولید می کنید به شما می پردازد؟ و واضح تر این که : این دستگاه ها را چه کسانی از شما خرید خواهد کرد؟ این سوال ضعف های نولیبرالیسم را، که این مقاله از آن یاد آوری کرد، مجسم می سازد.

# په امریکا کې د نژادي تبعیض پر ضد د مظاهرو لنډ تاریخ

لیکنه: امریکا غږ

د تېرې چهارشنبې په ورځ په امریکا کې یوه سپین پوستي پولیس افسر د مینیسوټا په ایالت کې یو تور پوستی امریکایي توقیف کړ او په ستوني یې ورته شاوخوا اته دقیقې زنګون کېښود چې له کبله یې هغه ساه ورکړه.

دغه کار یو نژادي توپیر او تبعیض وګڼل شو او د مینیسوټا ایالت په ګډون د امریکا په ډېرو ایالتونو کې د دغې پېښې د غندلو لپاره له تاوتریخوالي ډکې مظاهرې وشوې او لا هم روانې دي. تر دمه په زرګونو کسان نیول شوي او ډېر تجارتي مرکزونه، هتۍ او د پولیسو ځینې مرکزونه هم لوټ شوي او سوځول شوي دي.

په امریکا کې دا په خپل ډول کې لومړۍ پېښه نه ده، تر دې مخکې هم دا ډول پېښې او پر ضد یې مظاهرې شوې دي. دلته د ۱۹۶۵ راپه دېخوا دغو پېښو او مظاهرو ته یوه لنډه کتنه شوې ده.

**لاس انجلس-۱۹۶۵**

په ۱۹۹۵ ز کال د اګست په میاشت کې د لاس انجلس په ښار کې یوه پولیس دوه تور پوستي ورونه چې په موټر کې سپاره وو، ودرول او د هویت د اسنادو پوښتنه یې ترې وکړه. دا کار تعصب وګڼل شو او پر ضد یې لاریونونه پیل شول، تاوتریخوالی پکې وشو او لږ تر لږه ۳۴ تنه پکې ووژل شول. په دغو مظاهرو کې میلیونونه ډالر زیان هم واوښت.

**نیویارک- ۱۹۶۷**

د نیو جرسي ایالت د نیویارک په ښار کې دوو سپین پوستو پولیسو یو تور پوستی ټکسي موټروان د یوې عادي ترافیکي سرغړونې له کبله ودراوه او ویې واهه. خلکو یې په ضد مظاهرې وکړې. دا مظاهرې چې د جولای په ۱۲ مه پیل او په ۱۷ مه ختمې شوې، ۲۶ تنه پکې ووژل شول او ۱۵۰۰ نور ژوبل شول.

**ډیټرویټ-۱۹۶۷**

د جولای د ۲۳مې او ۲۷مې ترمنځ د مېشیګن ایالت د ډیټرویټ په ښار کې د نژادي تبعیض پر ضد مظاهرې وشوې چې ۴۳ تنه پکې ووژل شول او تر ۲۰۰۰ ډېر نور ژوبل شول. د دغو مظاهرو لمنه د ایلینویې، شمالي کارولینا، ټینیسي او مریلنډ ته هم ورسېدله.

**د کېنګ ترور- ۱۹۶۸**

د ټینیسي د میمفیس په ښار کې د مارټن لوترګېنګ له ترور وروسته د امریکا په ۱۲۵ لویو او وړو ښارونو کې مظاهرې وشوې.
دا مظاهرې د اپریل په څلورمه پیل او په ۱۱ مه ختمې شوې چې ۴۶ تنه پکې ووژل شول او ۲۶۰۰ نور پکې ژوبل شول. د وخت ولسمشر لینډن بي جانسن ځانګړي ځواکونه واستول چې مظاهرې ارامې کړي.

**میامي-۱۹۸۰**

د فلوریډا ایالت د تمپا په ښار کې له هغه وروسته د تبعیض ضد مظاهرې پیل شوې چې د یوه تورپوستي موټر سایکل سپاره په وژلو تورن څلور سپین پوستي پولیس افسران له توقیف څخه آزاد شول.
دوی دا تور پوستی د یوې عادي ترافیکي تېروتنې له کبله دومره وواهه چې مړ شو.
د پولیس افسرانو له خوشې کېدو وروسته د مې په ۱۷ مې مظاهرې پیل شوې او په ۲۰ مې ختمې شوې چې ۱۸ تنه پکې ووژل شول او څه باندې ۳۰۰ نور ژوبل شول.

**لاس انجلس- ۱۹۹۲**

په لاس انجلس کې له هغه وروسته مظاهرې پیل شوې او ۵۹ تنه پکې ووژل شول چې څلور پولیس افسران له بند څخه ازاد شول. دغو پولیسو افسرانو د یوه تور پوستي موټر سایکل لرونکي رودني کېنګ د وهلو ویډیو ثبت کړې وه.
د دغې پېښې د غندلو پر ضد له تاوتریخوالي ډکې مظاهرې د امریکا د اتلانتا، کالیفورنیا، لاس ویګاس، نیویارک، سان فرانسیسکو او سن هوس ښارونو کې هم وشوې. دا مظاهرې د اپریل په ۳۰ مې پیل او د مې په لومړۍ ختمې شوې.

**سینسیناټي-۲۰۰۱**

د اوهایو د سینسیناټي په سیمه کې له هغه وروسته خلک لارو او کوڅو ته راووتل او مظاهرې یې وکړې چې یوه سپین پوستي پولیس افسر یو ۱۹ کلن تور پوستی په وهلو-وهلو مړ کړ.
په دغو مظاهرو کې ۷۰ تنه زخمیان شول. مظاهرې د اپریل په نهمه پیل شوې او ښاروال بیا د اپریل په ۱۶ مه په ښار کې ګرځبندیز ختم کړ. دا مظاهرې تر هغه وخته پورې په دغه ښار کې په تېرو ۳۰ کلونو کې تر ټولو خطرناکې وبلل شوې.

**فېرګسن-۲۰۱۴**

د میزوري ایالت د فیرګسن په ښار کې له هغه وروسته له تاوتریخوالي ډکې مظاهرې پیل شوې چې یو پولیس افسر یو بې وسلې تور پوستی کمکی ځوان مایکل براون وواژه.
دا مظاهرې د اګست په ۹مه پیل او په ۱۹مه ختمې شوې. محکمې شاوخوا دوې میاشتې وروسته دغه پولیس ته براءت ورکړ او په دغه کار سره خلک بیا راوپارېدل.

**بالټیمور-۲۰۱۵**

د ۲۰۱۵ ز کال د اپریل په ۱۹ مه نېټه یو تور پوستی ۲۵ کلن له هغه وروسته مړ شو چې پولیسو ونیوه، ویې وواهه او سخت یې ژوبل کړ.
دی یوه اونۍ وروسته د ټپونو له کبله مړ شو او په دې کار سره په دغه ایالت کې چې اکثریت یې افریقایي-امریکایان دي، مظاهرې پیل شوې. په ایالت کې بېړنی حالت اعلان شو او چارواکو له ځواکونو د حالت په کنټرولولو کې د مرستې غوښتنه وکړه.

**شارلوټ-۲۰۱۶**

د شمالي کارولینا د شارلوټ په ایالت کې د پولیسو په ډزو د ۴۳ کلن کس کیت لاماونټ سکاټ له وژلو وروسته مظاهرې پیل شوې.
پولیس وایي چې هغه یې د ماروانا -ناقانونه نشه یي توکي- د استعمال په وخت لیدلی و او کله چې یې موټر ته نژدې شول، د هغه په لاس کې وسله وه.
خو د هغه کورنۍ وایي چې هغه وسله نه لرله. چارواکو ګرځبندیز اعلان کړ او امنیتي ځواکونه یې د مرستې لپاره وغوښتل.

# بې پروایي او را روان ناورین؛

## د ژغورنې نړیواله کمېټه: کرونا به په افغانستان کې وحشتناک وضعیت رامنځ ته کړي



د افغانستان په ډېریو ولایتونو کې د کرونا ویروس پراختیا له کنټرول وتلې ده. له دې سره هممهاله د ژغورنې نړیوالې کمېټې د افغانستان پر وضعیت اندېښنه ښرګنده کړې ده. دغه کمېټه وایي چې په افغانستان کې د کرونا ویروس پراختیا خورا چټکه او له کنټرول وتلې ده، نو ښایي انساني ناورین رامنځ ته کړي. دغه کمېټه وایي، افغان حکومت هم د کرونا ویروس پر وړاندې په مبارزه کې اړین تجهیزات نه لري او که پاملرنه ونه شي، نو وضعیت به تر دې هم خطرناک شي. عامې روغتیا وزارت هم د پېښو د ډېرېدو خبره کوي، خو داسې راپورونه هم شته چې دغه وزارت د کرونا له امله د مړو شوو کسانو اصلي شمېره پټوي او یا یې په اړه معلومات نه لري.
سره له دې چې د هېواد په ډېرو ښارونو کې خلک د کرونا ویروس له چټکې پراختیا شکایت کوي، تازه د ژغورنې نړیوالې کمېټې هم په دې تړاو اندېښنه ښرګنده کړې ده.
دغې کمېټې تازه د افغانستان په اړه په خپلو ښرګندونو کې ویلي چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس د پراختیا سلنه یوازې تېره میاشت ۶۸۴ ته رسېدلې ده. دغه کمېټه د کرونا ویروس د پراختیا دغه چټکتیا وحشتناکه او د جدي اندېښنې وړ بولي.
د ژغورنې نړیواله کمېټه وایي چې په افغانستان کې د اخته کسانو له ډلې له لوړې سلنې ټېسټ یا د ازمویښت لپاره نمونې نه اخیستل کېږي، نو له همدې امله په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په څلونو ډېرې دي او د چټکې پراختیا په حال کې دي. یاده کمېټه وایي چې په افغانستان کې ښایي وضعیت تر دې هم وحشتناک شي. د دې اداري په خبره: ((کرونا په افغانستان کې وضعیت تر دې هم وحشتناک کوي، لا یې بدتره کوي. ډېری کلینیکونه او روغتیایي مرکزونه پر کرونا د اخته کسانو د درملنې یا مراقبې لپاره اړین تجهیزات نه لري، همدا راز هغه کسان چې په کرونا اخته شوي وي، ورکېږي)).
د ژغورنې نړیواله کمېټه داسې مهال د اخته کسانو د ورکېدو خبره کوي، چې خلک د عامې روغتیا وزارت پر روغتیایي خدماتو باوري نه دي او همدا راز دغه وزارت د ټولو اخته کسانو د تجرید او بستري کولو لپاره امکانات نه لري.
د ژغورنې نړیواله کمېټه دغه راز وایي، باید له افغانستان سره د تجهیزاتو او نورو اړینو مواردو په برخه کې مرسته وشي، څو دلته د یوې انساني فاجعې له رامنځ ته کېدو مخنیوی وشي. د ژغورنې نړیواله کمېټه داسې مهال د افغانستان په اړه ښرګندونې کوي چې دلته د عامې روغتیا وزارت پر کارونو نیوکې ډېرې دي.
دغه وزارت تر ډېره د رسنیو له لارې ارقام خپروي او د وقایې او پراختیا د مخنیوي لپاره یې منظم او عملي پروګرامونه نه لري. همدا اوس د هېواد په ډېری لویو ښارونو کې کرنتین مات شوی، ورو ورو دولتي اداري خپلې چارې پیلوي او ښارونه یو ځل بیا له ګڼې ګوڼې ډک شوي، خو وزارت یې پر وړاندې بې تفاوته دی.
بلخوا د پژواک خبري آژانس یو نوی راپور وایي چې عامې روغتیا وزارت د کرونا له امله د مړو شوو کسانو شمېره نه په ډاګه کوي او ارقام یې ناسم دي. د سرچینې په خبره، وړمه ورځ د کابل ښار په بېلو برخو کې ۱۹ کسه مړه شوي چې د دوی د معلوماتو له مخې، د څلورو کسانو مړینه د کرونا له امله وه، خو د عامې روغتیا وزارت وایي چې یوازې یو کس په کال کې د کرونا له امله مړ شوی دی.
عامې روغتیا وزارت دمګړۍ په هېواد کې د مثبتو پېښو شمېر ۱۵۷۵۰، د مړو شوو کسانو شمېر ۲۶۵ او له کرونا د بېرته جوړو شوو کسانو شمېر ۱۴۲۸ کسه ښیي. له دې سره جوخت ښایي سلګونه داسې کسان هره ورځ په کرونا اخته کېږي چې دوی خپل ازمویښت نه شي کولی او اړ دي چې په خپلو کورونو کې ځانونه بستري کړي.

# د تبعیض پر وړاندې د لاریونونو پراختیا؛

## په امریکا کې د تورپوستو د وژنې په غبرګون کې لاریونونه نورې نړۍ ته هم غځېدلي دي


په متحده ایالتونو کې د پولیسو له خوا د تور پوستو د وژنو په اعتراض لاریونونه د امریکا پر ګڼو ښارونو سربېره، نورو هېوادونو ته هم غځېدلي دي.
زرګونه کسان تېره ورځ د نیوزیلنډ په څو ښارونو کې په اعتراض راووتل او په امریکا کې یې د جورج فلوید په نوم د یوه تور پوستي تر وژنې وروسته د نژادي بېعدالتۍ پر ضد توندې نیوکې او اعتراضونه وکړل.
د جرمني او بریټانیا په پلازمېنو دغه‌راز د کاناډا په مونټریل او د برازیل په ریو دي ژنیرو کې هم اعتراض کوونکو له امریکایي لاریونوالو سره خپل پیوستون ښرګند کړ.
په ورته وخت کې په ایران او چین کې هم د امریکا د تاوتریخجنو اعتراضونو پر وړاندې د امریکا د امنیتي ځواکونو پر اقدام اعتراض وشو.
د نیوزیلنډ په پلازمېنه اوکلنډ کې اعتراض کوونکو د امریکا د کونسلګرۍ مخې ته مظاهره وکړه او په شعارونو کې یې لیکلي وو «ساه نه‌شم اخیستلی او واقعي ویروس نژادي تبعیض دی».
په امریکا کې د ننه هم لاریونونه او تاوتریخوالی ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي. زرګونو کسانو په واشنګټن ډي سي کې د سپینې ماڼۍ په مخکې او د امریکا په لسګونو نورو ښارونو کې لاریونونه وکړل او په ځینو سیمو کې یې له پولیسو سره نښتې هم وکړې. دا لاریونونه په هغو ښارونو کې هم وشول چې د شپې پکې ګرځبندیز اعلان شوی دی.
د لاس انجلس، شیکاګو، میامي، ډیټرویټ او فلادیلفیا په ګډون د متحدو ایالتونو په څه باندې ۴۰ ښارونو کې د ماښام د تیارو له خپرېدو وروسته تر سهار پورې په غونډو او تګ راتګ بندیز لګول شوی دی.
د ټکزاس او ویرجینیا والیانو اضطراري حالت اعلان کړی دی. د سن فرانسیسکو د لندن برید د ښار په ګډون په ځینو ښارونو کې تر نامعلومې مودې پورې اضطراري حالت اعلان شوی دی.
له دې سره سره، بیا هم زرګونو کسانو په بېلا بېلو ښارونو کې د پولیسو په توقیف کې د جورج فلوېډ د وژلو د غندلو او عاملینو ته د سزا غوښتلو لپاره پراخ لاریونونه وکړل. په ځینو برخو کې لاریونوالو یو شمېر موټرونو او هټیو ته اور اچولی او له پولیسو سره یې نښتې کړې دي.
په ورته وخت کې په واشنګټن ډي سي کې پولیسو د لاریونوالو د خورولو لپاره له اوښکې بهوونکي ګاز او لوګي لرونکو لاسي بمونو څخه کار واخیست. لاریونوالو شعارونه ورکول چې عدالت غواړي او متعصب پولیس نه غواړي. دا لاریونونه تېره اونۍ وروسته له هغې پیل شول چې د مینیسوټا ایالت یو سپین پوستي پولیس افسر ډېریک شاووین یو تور پوستی جورج فلویډ ونیوه، پر ځمکه یې وغورځوه او پر ستوني یې پښه کېښوده. جورج فلویډ ډېرې چیغې ووهلې چې ساه یې بنده شوې، خو پولیس افسر یې له ستوني پښه لېرې نه کړه او نوموړی ځای پرځای مړ شو.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل


### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### شپږم څپرکی




سخت کار کول مو نه شتمنوي!
زموږ په کلتور کې یو عجیبه باور شته چې وايي:«که دې سخت کار کاوه، نو بریالی به یې.» دا بې مانا خبرې دي. مصیبت دا دی چې د ډېرو خلکو ذهنونه دې ته اماده شوي چې دا خبره ومني او منلې یې هم ده. که څه هم د نه منلو لپاره به یې زرګونه ثبوتونهویني.
کوم ثبوتونه؟ یوازې خپل شا و خوا وګوره. ایا داسې څوک پېژنې چې ټول عمر یې سخت کار کړی وي او په ستړیا او مات زړه یې یوازې خپل ژوند پای ته رسولی وي؟ هو، خامخا به مو لیدلی وي. موږ ټولو لیدلي. دا نړۍ له هغو خلکو ډکه ده چې سخت کار کوي؛ خو ښه اقتصاد نه لري. تر ټولو بده دا ده چې دا خلک دې پایلې ته رسېدلي چې ځان ملامت او ناکام وګڼي. دوی ټولو ښه او سخت کار کړی دی. دغسې نه ده؟ خو بیا یې هم نتیجه نه ده ورکړې.
ځینې خلک بې مانا خبرې کوي او وايي:«کېدای شي ښه سخت کار یې نه وي کړی، ښه بخت یې نه لاره، یا اصلاً دوی د بریالیتوب لپاره نه وي پیدا شوي.»
دا ټولې بې مانا خبرې دي. اصلاً د سخت کار کولو کیسه هسې افسانه ده.
پر ما غلط ګومان ونه کړئ. زما د خبرو هدف دا نه دی چې شتمنېدل یا اقتصادي ازادي سخت کار ته ضرورت نه لري، بلکې خامخا سخت کار غواړي. هیله لرم تاسو به دومره بې تجربې هم نه یاست چې پر دغو کم‌عقلانه خبرو باور وکړئ چې وايي پیسې اسانه، زر او بې زحمته ګټل کېږي.
سخت کار کول اړین دي. خو پوښتنه دا ده چې سخت کار څه شي ته وايي؟ غواړم ستاسو اواز واورم:«څه شی دی؟» بښه مه کوئ، ځکه زموږ د کلتوري باور تر شا دغه تریخ حقیقت دی چې «د پیسو ګټلو لپاره سخت کار کول کله هم شتمني نه پیدا کوي.»
خلک چې د ګټې لپاره هر څومره سخت کار کوي، هغومره ډېره مالیه به ورکوي. د پیسو ګټلو لپاره سخت کار مه کوئ، هر څومره چې ګټې، درنه مصرف به شي. بیا به د نورو په ګټلو اخته شئ.
کېدای شي پوښتنه وکړئ چې څه وکړو؟
کنټرول په لاس کې واخلئ!
د څه شي کنټرول؟ څومره کوښښ چې وکړئ، د ژوند ټول شیان په واک کې نشئ راوستلای. د بازار، کارګرو او اقتصاد واک کله هم ستاسو په لاس کې نه دی. یوازینی څه چې تاسو یې په واک کې درلودلای شئ، ستاسو د ګټې او لاسته راوړنې سرچینې دي.
ستونزه څه ده؟
زیاتره شتمن، تجارت شتمن کړي دي. بیل ګېټس مایکروسافټ او مایشیل ډیل، ډیل کمپیوټر په خپل اتاق کې جوړ کړ. په تاریخ کې ډېر کم خلک په B کونج کې اوسېدلي دي، یانې لوی شرکتونه یې لرلي دي. تجارت د پیسو ګټلو تر ټولو ښه لاره ده؛ خو په دې لاره کې ځینې خنډونه خامخا شته چې د خلکو مخه یې نیولې ده.
لومړی، زیاتره خلک د تجارت پیل کولو لپاره پیسو ته اړتیا لري. نن په منځني ډول د یوه تجارت د شروع کولو لپاره پنځه میلیونه ډالره ضرور دي. دویم دا چې له صفر څخه د تجارت شروع کول خورا خطرناک کار دی. په لومړیو پنځو کلو کې د ناکامېدو ۹۰ سلنه امکان شته او که ستا دغه نوی شرکت ناکامه شي، نو پنځه میلیونه ډالره زیان چا ته ورسېد؟ په لومړیو کې ما هم په تجارت کې دوه ځله ناکامي لیدلې ده. که څه هم دیوالیه شوی نه یم؛ خو په میلیونونو ډالره تاواني شوی یم. ((د نوي تجارت د پیل لپاره پنځه میلیونه ډالره په امریکا او نورو پرمختللو هېوادونو کې ضرور دي. دلته په افغانستان کې د یوه شرکت جوړول او خپل کاروبار لرل یوازې څو زرو یا څو لکه ډالرو ته ضرورت لري: ژباړن))
کله چې تجارت شروع کوې، نو د ځای کرایې، د کارکوونکو تنخوا، اوبو، برېښنا او نورو ته باید حساب وکړې. که دې دا نشوی ورکولای، نو بیخي د تجارت پیلولو ته ضرورت نشته. د تجارت په پیل کې یوازینی کس چې له تنخوا پرته کار کوي، هغه ته خپله یې. که ستا تجارت وروسته کامیاب هم شي؛ خو د پنځو یا لسو کلو لپاره ته هېڅ تنخوا نه لرې.
ما او میرمن مې (کېم) له یاده مه باسئ. موږ په خپل زاړه موټر کې ویده‌کېدلو. موږ یو کار موندلی او سمدستي مو تر یوه چت لاندې ژوند کولی شوای. خو دا هغه څه نه وو چې موږ غوښتل. د تنخوا لرلو پر ځای مو بې‌کوري انتخاب کړه، ځکه موږ هیله لرله چې د تجارت خاوندان وو او په B کونج کې ژوند وکړو.
ډېر خلک ښایي د دې حالاتو لپاره رواني، احساساتي، جسمي او مالي حوصله ونه لري. ښایي دا ډېر بې رحمه حالات وي او عموماً بې رحمه هم وي.
**دوام لري...**

# ادم سمیت

شفیق امیرزی



ادم سمیت په نړۍ کې د اقتصاد د پلار په نامه مشهور دی. هغه سکاټلنډی اخلاق پال فیلسوف دی. دی د سکاټلنډ د روښانتیا د زمانې فیلسوف ګڼل کېږي. هغه د اقتصاد په علم کې مخکښ و چې له همدې امله د نړۍ د معاصر اقتصاد پلار ګڼل کېږي. دی همدا راز د پانګوالۍ سیستم د اصلي تیورسنانو یا نظریه جوړوونکو له ډلې ګڼل کېږي. ده خپل اقتصادي فکر د (ملتونو شتمني) نومي اثر کې واضح کړې ده. دا د اقتصاد د مدرن علم لومړنی کتاب ګڼل کېږي چې د ادم سمیت د اثارو شهکار یې هم بولي.
آدم سمیت د یوه حقوقي مشاور زوی و. پلار یې په کرکالدي ښار کې تر ټولو مشهور حقوقي مشاور و. دوی د سکاټلنډ په فایف سیمه کې اوسېدل. د سمیت د زوکړې کره نېټه نه ده په ګوته شوې، خو د هغه د نوم اېښودنې مراسم د ۱۷۲۳ز کال د جولای په پنځمه ترسره شوي دي. پلار یې هم آدم سمیت نومېده، د ده تر زېږېدنې شپږ میاشتې مخکې ومړ، نو ځکه یې دا نوم پر ده کېښود. دی په څلور کلنۍ کې د یوې ډلې له لوري وتښول شو، خو تر لنډې مودې وروسته یې تره په دې بریالی شو چې ویې ژغوري. له تښتوونکو خلاص شو او د مور غېږې ته ورسېد.
سمیت په پنځلس کلنۍ کې په ګلاسکو پوهنتون کې داخل شو. ده هلته د اخلاقو فلسفه او ټولنیزه فلسفه لوستل پیل کړل. د اخلاقو علم فلسفه یې د فرانسیس هاچسون تر لارښوونه لاندې پیل کړه. دغه کس ته سمیت ډېر درناوی درلود او په خبره یې، هاچسون باید هېڅ وخت هېر نه کړل شي. هغه سختې زده کړې کولې او زیار یې ایست. سمیت په ۱۷۴۰ز کال کې د ګلاسکو پوهنتون د ځانګړي بورس سنل له لارې د آکسفورډ پوهنتون بالیول کالج ته لاړ. په ۱۷۴۶ ز کال کې له دغه ځایه لاړ. په ۱۷۵۱زکال کې د سکاټلنډ له مشهور فیلسوف ډیویډ هیوم سره بلد شو. دا په هغه وخت کې خورا مخکښ لیکوال او مشهور فیلسوف و. د دغو دوه کسانو ترمنځ ډېر فکري او عقیدتي نږدېوالی و. دا د سکاټلنډ د روښانتیا د وخت تر ټولو سره نږدې لیکوالان او فیلسوفان بلل کېږي. په همدې وخت کې سمیت په ګلاسکو پوهنتون کې د اخلاقو او منطق د تدریس څوکۍ خپله کړه. یو کال وروسته یې رسماً په دغه پوهنتون کې تدریس پیل کړ.
سمیت په ۱۷٦۲ ز کال کې د اخلاقي عواطفو د نظریاتو کتاب خپور کړ. دې کتاب دی د خپل عصر د تیورسنانو په کتار کې راوست. په همدې کال کې ګلاسکو پوهنتون نوموړي ته د قوانینو په برخه کې د دوکتورا سند ورکړ. یو کال وروسته د تحصیلي کال په جریان کې سمېت له خپلې دندې استعفا ورکړه او د هنري سکات په خصوصي تدریس یې لاس پورې کړ. دا د چارلز ټاون زوی و او غوښتل یې سمېت په خصوصي توګه هغه ته تدریس وکړي. سمېت په پوهنتون کې د دې غوښتونکی و چې تر استعفا وروسته د ټولو شاګردانو فیس بېرته ورکړي؛ ځکه د ده لپاره یې نوملیکنه کړې وه، خو شاګردانو ونه منله.
ګلاسکو ښار په سکاټلنډ کې هغه مهال خورا مهم ښار و. دا ځای علم، فرهنګ او نوښتونو ښار بلل کېده. ډېری فکري تحولات له همدې ځایه پیلېدل، روزل کېدل او نورو ځایونو ته خپرېدل. اسمیت هم دلته له ډېرو عالمانو سره وپېژندل، فکري بحثونه یې لرل او دا ښار دده او نورو سکاټلنډي پوهانو د ودې او پرمختګ لپاره غوره بستر و. خو تر څه موې وروسته سمیت له دې ځایه پاریس ته لاړ او غوښتل یې هلته له نوو نظریاتو سره اشنا شي او د خپل وخت مروج فکري او علمي جریانونه مطالعه کړي. دلته یې له داکتر فرانسوا سره بحثونه کول. داکتر فرانسوا د فیزیوکراسۍ د اقتصادي مکتب بنسټګر بلل کېده. په هغه وخت کې باور دا و، چې سره زه، سپین زر او ځینې نور قیمتي فلزات د شتمنۍ او پیاوړي اقتصاد لپاره مهم دي. خو فرانسوا ددې باورونو خلاف په دې ټینګار کاوه چې د شتمنۍ او ثروت اصلي سرچینه ځمکه ده. دده په خبره اصلي اقتصاد او شتمني له تولید سرچینه اخلي او تولیدات له ځمکې پیلېږي. ده پر کروندګرۍ او کروندو باندې ټینګار کاوه و ویل یې زراعت باید پراخ کړل شي. آدم سیمیت د فرانسوا له دې نظریې سره مخاف و او د فیزیوکتراتانو ددې نظریاتو په مقابل کې یې دلایل وړاندې کول. له همدې چې بېرته سکاټلنډ ته راګرځي، د ملتونو د ثروت کتاب لیکي. هغه کتاب چې په نړیواله کچه مشهور شو. کتاب یې په ۱۷۷٦ز کال کې خپور کړ.
ادم سمیت د اقتصادي مسایلو د تحلیل په برخه کې لومړني ګامونه اوچت کړل، ده په منظمو، تحلیلي او منسجمو اقتصادي بحثونو پیل وکړ. د لومړي ځل لپاره مهم اقتصادي نظریات تدوین شول، منظم شول او راټول شول. همدا لاملونه دي چې ادم سمیت ته د اقتصاد پلار وايي. د فیزیوکراتانو نظریاتو چې تر ډېره له ځمکې د تولید پر مسئله راټول وو ، په بریتانیا او نورو ځایونو کې خاص بازار و نه موند. د فیزیوکراتانو دوه مهم شعارونه وو، یو د عمل ازادي او بل د تېرېدو یا عبور ازادي. دوی دا شعاروه ورکول، خو د عملي کولو له اړخه یې ناکام وو. د دې دوو نظریاتو لپاره یې پلانونه او طرحې لرلې، خو عملي کولی یې نه شوای، نو ځکه یې نظریاتو هم بازار نه درلود. ادم سمیت بیا داسې نظریه مطرح کړه چې اقتصاد باید د یوې تیوري او نظم پر بنسټ مخ ته لاړ شي او دغه راز دولت باید په ډېرو تجارتي مسایلو او ازاد بازار کې مداخله ونه کړي. په دې توګه نو د اقتصاد کلاسیک مکتب د ملتونو د ثروت د کتاب له خپرېدو سره سم بدل شو او په اروپا او بریتانیا کې د مهمو اقتصادي تحولاتو د پیل څپه شوه.
مخکې مو هم وویل چې سمیت لومړی په ګلاسکو پوهنتون کې شامل شو. په دغه پوهنتون کې د درې کلنې دورې تر تېرولو وروسته د یوه بورس له لارې اکسفورډ پوهنتون ته ولېږل شو. ده باید دلته یوولس کلنه تحصیلي دوره تېره کړې وای. هغه کس چې له دې بورس استفاده کوله، باید تر فراغت وروسته د سکاټلنډ په کلیسا کې په کار ګومارل شوی وای. سمیت ځانګړي افکار درلودل، عقاید یې په اکسفورډ کې له روان چاپېریال او وضعیت سره په ټکر کې وو. له همدې امله یې تر شپږو کلونو ډېر وخت په دغه پوهنتون کې تېر نه شوی کړی او له دې ځایه ووت. ده به ویل چې په اکسفورډ کې هر څه متفاوت دي، ان مدیریت او د تدریس لارې چارې یې هم د ده نه دي خوښې شوې. دی په یوه ځای کې لیکي، هر څوک چې اکسفورډ ته تلل او ځان یې په خطر کې اچاوه، ملامت دوی دي؛ ځکه هلته هېڅ هم نه وو یوازې دوه وخته به دې په ورځ کې عبادت کاوه او د ورځې به دې په دوو مذهبي بحثونو کې برخه اخیسته. دی په خپل کتاب کې هم پر اکسفورډ نیوکه کوي او وايي، هلته هغه استادان په تدریس بوخت دي چې نور نو نوي څه نشته ورسره. همدا لاملونه وو چې د اکسفورډ په بورسیه کې یې د ځان پاتې کېدل خطرناک او له زیانونو ډک کار بوله، له دې بورسیې په ۱۷۴٦ز کال کې تېر شو او بېرته ګلاسکو پوهنتون ته ور وګرځېد.
سمیت له آکسفورډ له راګرځېدو سره سم وغوښتل په پوهنتون کې استاد شي. پنځه کاله وروسته یې دا هیله پوره شوه او په ۱۷۵۱ز کال کې یې استادي پیل کړه. مخکې مو هم وویل چې په ګلاسکو پوهنتون کې د اخلاقو او منطق استاد و. دا څوکۍ له هاچسون پاتې شوې وه چې د ده نږدې همفکره ملګری او استاد هم تېر شوی و. ده په همدې پوهنتون کې د استادۍ پر مهال د اخلاقي احساساتو نظریه کتاب هم ولیکلو. په ۱۷۵۹ز کال کې یې خپور کړ. په ۱۷٦٦ز کال کې یې ځان تقاعد کړ او غوښتل یې په خپلو ځینو کتابونو سم او دقیق کار وکړي. ده په پوره دقت غوښتل خپل نظریات ولیکي او په دې توګه یې نو له لیکلو سره هممهاله کار کول د ځان په زیان بلل.
آدم سمیت په خپلو لیکنو د هغه مهال اقتصادي چاپېریال بدل کړ. ده خلکو ته ثابته کړه چې ثروت څه ارزښت لري او د ثروت د ټولولو اصلي لارې چارې کومې دي. همدا راز یې غوښتل چې نړۍ له یوه ثابت او ملتونه له یوه واحد اقتصادي او سوداګریز چار چلند برخمن وي څو وکړی شي په خپلو کې سمې اړیکې وپالي. د هغه د نظریاتو له ډلې یو هم د ازاد بازار نظریه وه، چې نن د نړۍ په ډېری هېوادونو کې معمول ده.
آدم سمیت یوازې فیلسوف نه و، هغه وکړی شول چې د خپل فلسفي علم په مرسته په نړۍ کې د اقتصاد په برخه کې مهم نظریات رامنځ ته کړي. د ده تګلارې او رامنځ ته شوی اقتصادي نظام لا هم په ډېری هېوادونو کې د کارونې وړ دی. ادم سمیت یوازې موافقین نه، بلکې مخالفین هم لري، چې د ده نظریات ردوي. ډېری هېوادونه ځان ته ځانګړي اقتصادي نظامونه لري چې په هغه کې د ادم سمیت د نظریاتو ستره برخه نقد شوې او ګوښه شوې، خو په هر حال سمیت په نړۍ کې د اقتصاد یا معاصر اقتصاد پلار ګڼل کېږي چې اقتصادي مسایل یې له کلاسیکو او زړو نظریاتو را و ایستل او اقتصاد یې د خلکو او ټولنو د کارونې وړ و ګرځاوه.
د نړۍ د اقتصاد دغه وتلې څېره په ۱۷۹۰ز کال کې په یوه دردناکه او سخته ناروغۍ اخته شو او د ۱۷۹۰ز کال د جولای په اوولسمه د همدې سختې ناروغۍ له امله ومړ او په کنونګېټ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

همیانی

# د بریالي ګډ ژوند پنځه‌ګوني اصول

ژباړه: عطامحمد میاخېل

لومړی: متقابل درک او دوه‌اړخیزه همغږي

یوه دودیزه تېروتنه چې له ډېرى کسانو څخه کېږي، هغه دا ده کله چې یو څوک پېژني، د هغه له کړنو، چلند او خبرو څخه چې هره اخیستنه (برداشت) ولري، نو گمان کوي چې سمه ده.

په دغه وخت کې تر ډېره داسې تصور کوو چې پر پوهېږو چې مقابل لوری څه وايي او موخه يې څه ده، په داسې حال کې چې تر ډېره د مقابل لوري په موخه باندې په سمه توگه نه یو پوه شوي او په بېړنۍ توگه مو پایله اخیستې او ناسم قضاوت مو کړی دی.

دا بېړنۍ پایله اخیستنه او ناسم قضاوت هماغه د کورنۍ له منځه وړونکې فرضیه ده، چې په ډېرې آسانۍ د مېرمنې او خاوند ترمنځ مینه او محبت له منځه وړي، د ناسم‌پوهاوي او عاطفي لانجو سبب گرځي.

له ښه مرغه او که له بده مرغه باید ووایم، چې حقیقي او اغېزمنه اړیکه د نورو له درک کولو او د هغوی په احساس باندې له پوهېدو پرته ناشوني ده، دې برید ته رسېدل، د نورو واقعیتونو درک کولو ته اړتیا لري، لکه لاندې واقعیتونه:

١ ـ هغه څه چې په ظاهره وینو، تل واقعیت نه وي.

٢ ـ هغه چلند، کړنې او خبرې چې له مقابل لوري څخه یې وینو، د هغه د واقعي احساس د ټولو اړخونو ښکارندویي نه کوي او باید د هغه د چلند، کړنو او خبرو تر شا یې د واقعي احساس په لټه کې و اوسو.

٣ ـ هغه څه چې پوښتل یې موږ ته آسانه دي، ښایي د مقابل لوري لپاره ډېر ستونزمن کار وي.

۴ ـ هغه څه چې اورېدل یې زموږ لپاره آسانه دي، کېدای شي د مقابل لوري لپاره مناسب نه وي.

۵ ـ هغه څه چې موږ گمان کوو، د مقابل لوري لپاره گټور وي، خو ښایي د هغه لپاره هېڅ گټه ونه لري.

٦ ـ افراد د بېلابېلو تگلارو په مرسته خپل احساسات څرگندوي.

٧ ـ هغه څه چې موږ وایو، سل په سلو کې سم نه دي او هغه څه چې نور وايي، سل په سلو کې ناسم نه دي.

دویم: په سمه توگه د توپیرونو درک او هغو ته درناوی کول

موږ ټول کم او زیات له توپیري ښکاره کېدو څخه وېرېږو، ښایي په دې دلیل اندېښمن یو چې داسې نه د نورو د ملنډو او د پسخند شو او یا د خپلې ماتې او ناکامۍ زمینه برابره کړو. په داسې حال کې چې توپیرونه جادویي دي او کولای شي چې د هغو ټولو ډالیو جذبوونکي اوسي، چې غواړو یې.

د ښځینه او نارینه ترمنځ په اړیکو کې شته توپیرونه په حقیقت کې د دغو دواړو جنسونو د یو بل بشپړوونکي دي او له دواړو لورو څخه هر یوه ته دا فرصت ورکوي، چې توازن او بشپړتیا ته ورسېږي. په بل عبارت، کله چې له موږ څخه هر یو د هغو کسانو پر لور جذبېږو، چې په بشپړه توگه له موږ سره توپیر لري، کولای شو چې خپل کمزوري او پیاوړي ټکي وپېژنو او د یو بل په مرسته خپل مسایل ومنو.

د توپیر بل جادویي اړخ د مېرمنې او خاوند ترمنځ د مینه‌ناکو اړیکو پیاوړتیا ده؛ ځکه کله چې توپیرونه منو، نو ورو ورو خپلو تېروتنو او ناعادلانه قضاوتونو ته متوجه کېږو او له مقابل لوري څخه ډېر کم خپه کېږو او یوازې په هغه حالت کې اصیله مینه راڅرگندېږي، په داسې حال کې چې موږ خپل مقابل لوری له ټولو هغو توپیرونو او ورته‌والو سره چې له موږ سره یې لري، منو او ورسره مینه لرو.

درېیم: قضاوت نه کول

موږ یوازې هغه وخت کولای شو چې د منفي او ناسم قضاوت له شره خلاص شو چې د خپل ځان او د خپل ژوند د شریک ترمنځ توپیرونه درک او خپل احساسات، افکار او لېوالتیا په سمه او بریالۍ توگه مقابل لوري ته ولېږدوو.

منفي قضاوتونه او پرېکړې په ډېرې آسانۍ سره کولای شي زموږ د گډ ژوند اړیکې بې نظمه او گډوډې کړي او تر هغه وخته چې ونه شو کولای د افرادو ترمنځ قضاوتونه په رسمیت وپېژنو، دوام پیدا کوي.

په حقیقت کې موږ باید مینه وکړو، ومنو، مننه وکړو او درناوی وکړو چې وکولای شو قضاوت کول لرې کړو او له خپل ځان او نورو سره لکه څنگه چې یو او دي، مینه ولرو.

مهمه دا ده چې باید دې ټکي ته پام وشي چې د نورو په اړه زموږ منفي قضاوت د دې ښکارندويي کوي چې موږ له خپله ځانه راضي نه یو.

څلورم: د یوې اړیکې د ساتلو لپاره د یو شان مسوولیت منل

که پر دې پوه نه شي چې تاسو او د ژوند شریک مو د یو بل پر وړاندې په یوه اندازه مسوول یاست، نو تر یوه بریده د اړیکې دوام ناشونی کېږي. موږ ټول کله ناکله داسې احساس کوو، چې تل خبرې کوو، سرښندنه کوو، زحمت باسو او رسیده‌گي کوو، خو د دې ټولو پر وړاندې هېڅ نه ترلاسه کوو.

دا د قربانیانو چلند دی او د دې نښه ده چې په یوه اندازه مسوولیت نه دی او نه یې منو. قربانیان داسې احساس کوي چې شرایطو ته د بدلون ورکولو وړتیا نه لري، دا ډول افراد نه پوهېږي او یا هم باور نه لري چې کولای شي د خپل گډ ژوند اړیکه کنټرول او اداره کړي او بدلون ورکړي.

هغوی هېڅکله پر دې باور نه کوي، که بل ډول چلند یې کړی وای، نو ښې پایلې یې ترلاسه کولې. قربانیان نه مني، چې پخپله د ستونزو او مسایلو د رامنځته کېدو په څرنگوالي کې رول لري.

د قرباني اوسېدو د احساس پایله، د خپگان او رټنې احساس دی او د خپگان ځپل نه یوازې د منفي قضاوت سبب گرځي، بلکې د عاطفي اړیکو د خرابېدو یوه بالقوه زمینه برابروي.

که کوم نارینه خپل مېرمن د لرگي په وسیله په سر باندې ووهي او د دې گوزار له امله د هغې له سر څخه وینې روانې شي، نارینه په ډېرې آسانۍ د خپل کار مسوولیت مني، خو ډېری نارینه په یوه عاطفي اړیکه کې خپله لټې او تنبلي نه مني؛ ځکه د خپلې کړنې له څرنگوالي څخه ناخبره دي.

په همدې دلیل ښایي وکولای شو ووایو، په یوه اړیکه کې د دواړو خواوو پر وړاندې د مسوولیت د رامنځته کېدو لپاره د ښځې مهمه دنده دا ده چې خپل احساسات، عواطف او اندېښنې له قضاوت او خواشینۍ پرته په ډېر درناوي له نارینه سره شریک کړي. د خپگان او قرباني اوسېدو تجربې د ځېلو پرځای دې نارینه پر دې پوه کړي چې کوم چلند یې د مېرمنې د توند غبرگون سبب شوی دی.

پنځم: د بښنې تمرین

د مینې او محبت څرگندونه هېڅ ښځایه کوښښ ته اړتیا نه لري او که موږ د مینې او محبت کولو لپاره ډېرې زیاتې هڅې او کوښښ ته اړتیا لرو، په دې مانا ده چې خپل ځان مو دوکه کړی او یو خپگان مو په خپل ځان کې ځپلی دی.

خو د خپگان پټول او د غوسې ځپل په اصل کې یو بې گټې کار دی؛ ځکه چې موږ ډېری وختونه په زړه کې خپگان او اندېښنه لرو، هېڅکله نه شو کولای چې له هغه چا څخه یې پټ کړو چې زموږ خبرو ته غوږ نیسي، حتی که د دغه کار لپاره ډېره زیاته هڅه هم وکړو.

له دې امله موږ او تاسو د خپگان او اندېښنې د احساس پر وړاندې دوې لارې لرو؛ یا په رښتیا ببښنه وکړو یا دا چې د خپگان پرځای د هغه څه پر وړاندې چې زموږ اړیکه ورسره مخامخ شوې، خپل مسوولیت ومنو. باید واقع بینانه و اوسو، موږ ټول د دې ځواک لرو، چې شرایطو ته بدلون ورکړو. بسنه کوي پوه شو او درک یې کړو، چې څنگه په خپل چال چلند سره په مقابل لوري کې د پام وړ غبرگونونه رامنځته کړو.

که د قرباني اوسېدو له احساس څخه تېر شو او د خپلو احساساتو او اندېښنو په اړه له مقابل لوري سره خبرې وکړو، که قضاوت ونه کړو او له خپل ځان پرته هېڅوک لومړۍ درجه گرم ونه گڼو او که پوه شو چې دا زموږ خپل چال چلند دی، چې د مقابل لوري چال چلند رامنځته کوي. که هېر نه کړو، چې د اندېښنو ځپل او په خواشینیو باندې پښې ایښودل، هرومرو په مقابل لوري باندې خپله بده اغېزه ښندي او د سترگو په رپ سره زموږ د اړیکې بنسټ له منځه وړي، کولای شو یو بریالی گډ ژوند ولرو.

# جرمني: د افغان سولې په پروسه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو یو

په افغانستان کې د جرمني سفیر پیټر پروگل وايي چې هېواد به یې له ترهگرۍ سره د مبارزې او د سولې په هڅو کې د افغانانو ترڅنگ ولاړ وي او په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دي.

هغه دا خبره د جرمني سفارت ته نږدې د ۲۰۱۷ کال د مې ۳۱مه د خونړي برید د درېیم کال د پوره کېدو په مناسبت کړې ده. پروگل پر خپل ټوېټر لیکلي چې په سفارت کې یې دننه د دې برید د قربانیانو یاد غونډه جوړه کړې وه.

دري کاله وړاندې د کابل په یوه ډیپلوماټیکه ساحه کې د جرمني سفارت ته نږدې موټر بم چاودنه وشوه چې پکې له ۱۵۰ زیات کسان مړه او تر ۴۰۰ نور ډېر کسان ټپیان شول.

په وژل شویو کې د جرمني سفارت یوه ډیپلوماټه او یو افغان ساتونکی او په ټپیانو کې د جرمني او جاپان د سفارتونو یو شمېر کارکوونکي شامل وو. دغه راز په په دې لوی برید کې ۹۰ سلنه مرگ‌ژوبله ملکیانو ته اوښتې وه.

دغه برید د جرمني د سفارت د ودانۍ زیاته برخه ورانه کړې وه او له امله‌یې جرمني په کابل کې خپل قونسلي خدمات بند کړل. افغان چارواکو دا برید د حقاني شبکې کار بللی و.

جرمني داسې مهال له افغان سولې له پروسې څخه خپل ملاتړ اعلان کړی چې ټاکل شوې په نږدې راتلونکي د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ مخامخ بین الافغاني خبرې پیل شي.

# ولسي جرگه: که حکومت نوې کابینه را معرفي نه کړي، سرپرست وزیران به بې صلاحیته کړو

ولسي جرگې له حکومته غوښتي چې ژر تر ژر دېخپله کابینه د رایې اخیستو لپاره ور وپېژني.

دا په داسې حال کې ده چې د نوي حکومت له جوړېدو نږدې څلور میاشتې تېرېږي، خو لا يې هم د دغه حکومت مشرتابه خپله کابینه ولسي جرگې ته د باور رایې اخیستو لپاره نه ده ور پېژندلې.

د حکومت همدې کار ولسي جرگه په غوسهکړې او خبرداری ورکوي، که حکومت په نږدې ورځو کې کابینه ور معرفي نه کړي، سرپرست وزیران به بې صلاحیته کړي.

د ولسي جرگې دویم مرستیال عباس ابراهیم زاده وايي، حکومت په تېرو څو میاشتو کې درې ځله ژمنه کړې چې کابینه به د باور اخیستو لپاره ور معرفي کوي، خو په خپلو ژمنو یې وفا نه ده کړې.

هغه زیاته کړې: «که تر راتلونکو څو ورځو خپله کابینه معرفي نه کړي او په راتلونکې کې بیا دا کار وکړي، ولسي جرگه به یې تالار ته پرې نه ږدي، همدا ډول سرپرست وزیران به سلب صلاحیت او لاسلیک به یې بې اعتباره اعلان کړي.»

په ورته وخت کې د ولسي جرگې دویم منشي حجت الله خردمند ویلي، هغه ډول چې اړینه ده ولسي جرگې هم پر حکومت د کابینې د معرفي کولو لپاره لازم فشار نه دی راوستی.

خردمند ویلي: «انشاالله راتلونکو ورځو کې موږ د ولسي جرگې په تالاره کې یوه ډله‌ییزه پرېکړه کوو، موږ به له حکومت وغواړو چې تر هر څه ژر وزیران ولسي جرگې ته وپېژني، په دې کې هېڅ شک نشته چې په اوسني وضعیت کې حکومت نا مشروع دی.»

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې نږدې هره ورځ په ټولنیزو رسنیو کې د بېلابېلو کسانو له‌خوا د نوې کابینې په نوم لیسټونه خپرېږي چې پکې د وزیرانو، معینانو او د خپلواکو ادارو لپاره د نویو گومارل شویو کسانو نومونه ذکر شوي وي. خو ارگ بیا دا ډول لیستونه جعلي بولي او وايي چې د کابینې پر تشکیل کار روان دی.

د ولسمشر د ویاند مرستیال دوا خان مینه‌پال وايي: «د کابینې په معرفۍ حکومت کار کوي، په دې برخه کې یو شمېر سرپرست وزیران معرفي شوي او نور به هم معرفي شوي، کابینه به د ټول افغانستان د سیمو، خلکو، ژبو او قومونو استازولي وکړي.»

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٨٠ |
| € | ٨٤ |
| Rp. | ٤٧٢ |
| ₹ | ٩٥٠ |
| ¥ | ١٠,٧٠ |
| £ | ٩١,٥٠ |

## بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولی ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د جون دویمه | ۵۴۳مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰۷:۰۲ | ماخوستن ۰۸:٤۲

نړۍ




د تبعیض پر وړاندې د لاریونونو پراختیا؛

## په امریکا کې د تورپوستو د وژنې په غبرګون کې لاریونونه نورې نړۍ ته هم غځېدلي دي

۳

## ملګري ملتونه: نړیوال دې په یمن کې د حیاتي پروګرامونو د پلي کېدو لپاره ۲.۴۱ میلیارده ډالره مرسته وکړي



په داسې حال کې چې په یمن کې د کروناویروس پېښې ورځ تر بلې زیاتیږي، ملګري ملتونه وايي چې په هغه هېواد کې یې خپل زیات پروګرامونه بند کړي دي.
ملګري ملتونه وايي چې تر ۷۵سلنې زیات پروګرامونه یې په یمن کې یا بیخي بند شوي او یا یې فعالیت کم شوی دی.
د خوړو نړیوال او د ملګرو ملتونو روغتیایي سازمانونو په دغه هېواد خپلې مرستې تر نیمایي هم کمې کړې دي.
د دغه کار نور علتونه هم شته، خو د ملګرو ملتونو مسولین وايي چې عمده علت یې د حوثیانو له لورې جوړ شوي خنډونه او محدودیتونه دي. دغه ډله په پلازمینه صنعا او د یمن په ځینو نورو برخو کې کنترول لري.
د یمن لپاره د ملګرو ملتونو د پروګرامونو تنظیموونکي لایز ګرانډي اسوشیتېډپرېس ته ویلي چې په یمن کې د اړمنو کورنیو وضعیت خورا بد دی، خو دوی مجبور دي چې خپلې مرستې کمې او نیمې کړي. ملګرو ملتونو دغه راز ویلي چې نن سه شنبه جون۲ (غبرګولي ۱۳) یوه غونډه لري او په دې غونډې کې به په یمن کې د خپلو حیاتي پروګرامونو لپاره له نړیوالو ۲.۴۱ میلیارد ډالر مرسته وغواړي.
مېرمن ګرانډي ویلي چې د حوثیان هڅه کوي چې په کارونو کې یې شفافیت راشي او دا کار ښایي مرسته کوونکي وهڅوي چې مرستې وکړي.

## په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې او تلفات په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي

په داسې حال چې په یوشمېر هېوادونو کې د کرونا ویروس له کبله لګول شوي محدودیتونه د کمېدو په حال کې دي، خو له بلې خوا په نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې او تلفات په چټکۍ سره د ډېرېږي.
د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ٦.۳۳ میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۳۷٦ زره کسان مړه شوي او نږدې درې میلیونه ښېرته رغېدلي دي. امریکا لاهم د مثبتو پېښو او مړو له پلوه د ټولو هېوادونو په سر کې ده. په دغه هېواد کې د کرونا مثبت پېښې نږدې دوو میلیونو ته رسېدلي او ۱۰٦ زره ۵۳۵ امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.
له امریکا وروسته برازیل د ۵۱۹ زره او ۷۰۴ مثبتو پېښو په درلودو سره دویم، روسیه د ۴۱۴ زره او ۸۷۸ مثبتو پېښو له کبله درېیم، اسپانیا د ۲۸٦ زره او ۷۱۸ مثبتو پېښو په درلودو سره څلورم او برېټانیا د ۲۷٦ زره او ۳۳۲ مثبتو پېښو له کبله پنځم، هغه هېوادونه دي چې دغه ویروس سخت ځپلي دي.
ایټالیا، هند فرانسه، جرمني او ترکیه په ترتیب سره، شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هېوادونه دي چې د دغه ویروس تر ټولو ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.


## میک: وزارت داخله هنوز هم از نبود پالیسی ها ومیکانیزم های مناسب رنج می برد




میک می گوید که هرچند وزارت داخله ۳۵ سفارش آنان را کاملا تطبیق کرده؛ اما هنوز هم از نداشتن پالیسی بهترین روش برای بازسازی سیستمهای دوسیه بندی وسوابق، نبود میکانیزم مناسب برای ظرفیت سازی ونبود کنترول بر مدیریت قراردادها و نظارت از پیشرفت درعملی شدن آنها رنج می برد.
کمیتهٔ مستقل مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه علیه فساد اداری (میک) دیروز ۱۲ جوزا، سومین گزارش نظارتی خویش پیرامون وضعیت تطبیق سفارشات مبارزه با فساد اداری را که در گزارش ارزیابی آسیب پذیریهای فساد اداری در وزارت امور داخله آورده شده است، نشر کرد. گزارش ارزیابی آسیب پذیری های فساد اداری درماه فبروری ۲۰۱۹ به منظور شناسایی این آسیب پذیری ها در عملکردهای مهم وزارت داخله هم چون مدیریت منابع بشری، تدارکات و لوجستیک تهیه و به نشر رسید. میک طی این گزارش ۵٦ سفارش را برای اصلاحات به این وزارت پیشنهاد نمود که تا تاریخ ۲٦ ثور ۱۳۹۹، وزارت داخله ۳۵ سفارش (٦۳ درصد) را کاملا تطبیق نموده و ۱۰سفارش دیگر(۱۸ درصد) را قسما تطبیق کرده و همزمان، ۱۱ سفارش باقیمانده (۲۰ درصد) باقیمانده به چندین دلیل آرشیف شده اند. یافته های عمده در وزارت داخله نشان میدهد که سیستم پرداخت معاشات کارکنان افغانستان در این وزارت در حال تطبیق شدن است، در حالی که صلاحیت تشکیل و مادلهای (طرح) استخدام این سیستم بالای همهٔ کارمندان جدید اعمال میگردد. تا تاریخ ۱۵ می ۲۰۲۰ ، سوابق ۸۲۷،۱۲۲ کارمند درسیستم ادغام گردیده و واجد شرایط پروسس معاشات می باشند.


ژوند

## موخو ته د رسېدو لپاره نورې لارې ولټوئ!



یو څه په یاد ولرئ چې تل موخو ته د رسېدو لپاره نورې لارې هم شتون لري. که تاسو فکر کوئ چې د یوه کار ترسره کولو لپاره همدا یوه لاره ده، نو تېروتنه به مو کړې وي. فکر وکړئ د خپل شرکت لپاره مو یو با استعداد او په لوړه تنخوا مشاور استخدام کړی، خو شرکت مو لا پراختیا وکړي، مشاور له تاسو څخه ځینې پوښتنې کوي. هغه له تاسو څخه پوښتي چې اوسمهال کوم کارونه او په څه ډول ترسره کوئ؟ ایا موخې ته د رسېدو لپاره پرته له دې لارې کومه بله لاره هم شته؟ هغه له تاسو څخه پوښتي چې هغه موخې مو روښانه کړئ چې د ټول شرکت او یا هم د کمپنۍ د ځینو برخو لپاره مو ټاکلې دي؛ ځکه دغه ډول پوښتنې کولی شي ستاسو د کمپنۍ د لار پراختیا لپاره مهمې وي.
هڅه وکړئ د ځان لپاره خپله مشاور شئ، له ځان څخه خپلې پوښتنې په سره سینه وکړئ، له هغه وروسته ورته د حل مناسبې لارې ولټوئ.

## هره ورځ مېوه خوړل مو له مغزي سکتې ژغوري



د تازه څېړنو له مخې، هره ورځ د مېوې خوړل، د مغزي سکتې خطر ۴۰ سلنه کموي. د انګلستان اکسفورډ پوهنتون د اوو کلونو په موده کې په یوه څېړنه کې ثابته کړه چې هره ورځ په لږه اندازه مېوه خوړل، د دماغي سکتې مخه نیسي. په دې څېړنه کې نیږدې پنځو زرو چینایانو برخه اخیستې وه. یاده څېړنه دغه راز ښیي، هغه کسان چې هره ورځ د اړتیا په اندازه مېوه خوري، دوی ډېر لږ د زړه، د وینې رګونو او د دماغي سکتې پر ناروغیو اخته کېږي. د مېوو خوړل نه یوازې دا چې په وینه کې د ګلوکوزو اندازه کنټرولوي، بلکې د هغو درملو د جانبي اغېزو مخه هم نیسي چې د شکرې ناروغۍ د درملنې لپاره کارول کېږي. څېړونکي وايي، هغه څوک چې د ډوډۍ خوړو پرمهال مېوه خوري، د زړه او د وینې رګونو ناروغي خطر یې ۲۷ سلنه وي کمېږي. دې پایلو ته په کتو، ډاکټران سپارښتنه کوي چې هره ورځ لږ تر لږه ۱۵۰ ګرامه تازه مېوه باید وخوړل شي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

